افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| | |
|---|---|
| Ideologocal | مسئل ایدئولوژیک |



درویش وردک

۲۰ نومبر ۲۰۱۶

# یوپنځوسم مجلس(په دنیا باور نکول)

شیخ عبدالقادر(رضی الله تعالی عنه) د ۵۴۵ هجری قمری کال دشعبان په لسمه داسی وفرمایل:

دنیاتوله حکمت اوعمل اوآخرت ټول قدرت اوځواک دی، دنیا دحکمت پربنسټ ولاړه ده اوآخرت دقدرت پربنسټ، پس دحکمت په دارکی ، دآخرت عمل مه پریږده، اودقدرت په سرای کی دحق دقدرت څخه مه غافلیږه. دحکمت په داردهغی دمقتضا سره سم چلند وکړه. قضااوقدرمه بهانه کوه چی له مسولیتونو اوږه خالی کړی، ځکه دادهغوخلکوکاردی چی ایمان یی کمزوری وی.

او شیخ(رضی الله تعالی عنه) بیاوفرمایل: مومن په دی دنیا کی آرامش نلری، اوپه هغه څه چی پکی دی زړه نه تړی، دشریعت سره سم اودهغی دحکم پربنسټ له هغی څخه خپله برخه اخلی، ولی په زړه سره دخدای په یادبوخت دی، دحق پرباب مقیم دی، ترڅوددنیا زورور حب له منځه لاړشی اودننوتواذن ترلاسه کړی، ترڅودباطن اغیزه زړه اودزړه اغیزه نفس ته ورسیږی اوهغه مطمئنه مرحلی ته ورسوی، چی په پایله کی ټول غړی اوجوارح دخدای په اطاعت سره بوخت کیږی، داهل اوعیال له ګرفتاری اودخلکو له شرورو څخه فارغ کیږی، اوپه ټول وجود سره دخالق په خدمت قرارنیسی، اوداسی ګڼی چی پرته له خدایه بل موجود شتون نلری، خدای فاعل کل ګڼی، ځان طالب او حق یوازینی مطلوب بولی، نورنو ځوک نه پیژنی اونه ځوک وینی، په ټوله سره دخدای په ذات کی محو کیږی، چی هروخت خدای اراده وفرمایی ژوندی کوی یی(ثم اذا شاء انشره)- متعال خدای بیا دخلکو دمصالحولپاره ورته هوښیاری په برخه کوی اوددوی لارښوونی ته یی ګماری، ترڅوپه ارشاد بوخت شی اودنورو په آزار اواذیت هم ورته صبراوطاقت ورکوی.

د(اولیاء الله) قوم دزړونو اوباطن ساتونکی دی، اودحق داوامروپه ترسره کولوکی پایداران دی. تل له خدای سره دی اوله غیرسره بیګانه، دخدای فرمان ورونکی دی نه دغیرو. ای منافقه، ددی ډلی له اعمالوڅخه درسره کوم څه شتون لری، له ایمان اوله خدای سره دانس نه درسره کوم څه نشته، ژربه مرشی، اوله اعمالوبه دی پښیمانه شی. تاپه فصاحت اوژبورتوب بسنه کړی، اوزړه دی ګنګ اولال دی، پوه شه چی داکاردرته ګټه نلری. فصاحت زړه لره ځانګړی دی، نه ژبی لره. ای مرزړیه، ای دقوم له افعالو غافله، ای بدمرغه، ای دحق له رحمته محجوبه، په خپل نفس زرواره وژاړه اوپرنوروویوځل.

**لویه خدایه، لال وم،ترڅوژبه دی راکړه، پس خلک می په ویناسره ګټمندکړه، ددوی صلاح زما پرلاسونومیسره کړه، اوکه نه بیا می لال کړه.!**

(ای قومه) تاسوسره مرګ ته رابولم، اوهغه دنفس اودطبع دهوا مخالفت دی، اودشهواتواودډنیا دحرص له شیطان سره مبارزه ده، اوپردنیادتکیی ترک کول، پدی لاره کی زیاروباسی، اویأس اوناهیلی ځانته مه پرېږدی. عزّوجلّ حق فرمایلی:( **کل یوم هو فی شأن**).

له خدایه وغواړه ترڅوپه رحم اوشفقت درسره چلند وکړی، نه داستحقاق اوشایستګی پربنسټ، له ده وغواړه ترڅو دخپل علم په واسطه ستامصالح تامین کړی، نه ستا په علم چی ناقص اونارسا دی. په زړه اوځان له خدایه مغفرت وغواړه، نه یوازی په ژبه. له ده څخه دخپل علم اوځواک نه پورته وغواړه، ځان دده پروړاندی فقیراوناتوانه وګڼه، دقدرت اوځواک ښکارندویی مه کوه، ځآن عاقل اومدبره مه بوله، سرترپایه ځان دده په واک کی ورکړه.

هرڅوک چی پرخپل علم سره عامل نه و، نوجاهل دی. له عمله پرته علم به دی دخلکوخواته کش کړی، اوله عمل سره به دی علم دخدای خواته بوزی، اوله دنیابه دی بیزاره کړی، باطن به دی بینا اوله ظاهری سینګاره به لیری شی. اوپه دی حال کی دی چی دحق دعنایت اوسرپرستی لاندی به راشی، څکه خدای تعالی فرمایلی: (**وهویتولی الصالحین**)-«هغه صالحین ترعنایت اوپاملرنی لاندی نیسی».ددوی ظاهراوباطن ته پاملرنه کوی، ظاهریی دحکمت په لاسونواوباطن یی دعلم په لاسونو سره پرورش ورکوی، داسی چی نورغیرله خدایه له بل چا باک نلری، دچاعطاء(ورکړی) ته هیله مند نه وی،پرته له خدایه یی له بله نه اخلی،اوپرته دده له رضا څخه یی چاته نه بښی. له ټولو څخه وحشت لری، اویوازی دخدای په انس سره آرامش ترلاسه کوی.

داآخرزمان دی، تغییر اوتبدیل پکی ډیرشوی، دفترت زمانه ده،دنفاق زمانه دی. ای منافقه ته ددنیا بنده یی اواعمال دی هم ټول ددنیا لپاره دی. پیغمبراکرم(صلی الله علیه وسلم) فرمایلی: (**اِذا تَزَیَّنَ الْعَبْدُ بِعَمَلِ الْآخِرَةِ وَهُوَ لایُرِیْدُها وَ لایَطْلُبُها،لَعِنَ فِی السَّموات بِاِسْمِهِ وَنَسَبِهِ**)-« هرکله که بنده خان دآخرت په عمل سره سمبال کړ، ولی باطنا دهغی په طلب کی نه و، له آسمانه به دده په نوم اونسب دلعن اونفرین وړوګرزی».

(ای منافقینو) تاسومی دعلم اوحکمت له مخی پیژندلی یاست، څکه چی خدای هم ستاردی، نوماهم ستاسودرازونوله افشاکولوڅخه ډډه کوم. وای پرتا! آیا له خپله ځانه نه شرمیږی چی په معاصیو اونجاستونو سره ککړدی؟ اودباطن طهارت ادعاهم کوی! تاتراوسه ظاهری ادب ندی ترلاسه کړی، څرنګه دخالق دادب ادعاکوی؟ ستامعلم له تاڅخه راضی ندی. اوامریی دی ندی ترسره کړی، اودده له ادب څخه دی څه ندی زده کړی اوپه لهواولعب سره بوخت یی، ترڅوچی کامل توحید ته نه یی رسیدلی، اوله خپلی هستی رابهرنشی، اودحق دلطف په امان کی نه اوسی،دچرګ پشان دانس تروزرو لاندی دانه ټوله نکړی، اودجمال اوجلال دمشاهدی اوبه ونه ښبی، نشی کولای چی دقرب مدعی اوسی، که دی پایی اومایی ته ورسیدی، داسی لکه چی یوچرګ دنورومرغانوڅخه پالنه اوساتنه کوی، ته هم کولای شی دخالق لوری ته دخلکو راهنمااوسی.

ای جاهله کتاب اودفترپرېږده،دسِرسره راشه اوزماسره کښینه، علم دمردانوله خولی اوژبی زده کیږی،نه دکتاب اودفترڅخه، دحال له ژبی زده کیږی، نه دقال له ژبی، دهغومعلمینوڅخه زده کیږی چی پرحق ولاړ وی، اودغیرحق څخه فانی اوبیخبره.

دژوندانه مثبت تحولات اوبدلونونه عبارت دی له: له ځانهاوخلکوڅخه فانی کیدل اوپرخدای دوام اوبقا. دغیرخدای پروړاندی داسی اوسه لکه مړی، اودخدای سره په علاقه اواړیکه سره ژوندی شه. ددوی خادم اوسه چی هغوی دحق ددرګاه مقیم دی، اوټل یی داوامرو په ترسره کولو سره بوخت دی، له هغه څه نه چی نهی یی کړی، لیری

دی،اودخدای په رضایت سره یی دده مقدرات منلی دی، په لړاوډیروکی دشکایت ژبه نلری، لوړه اوژوره نه ګوری، پس ته هم دخالق له خدمت څخه مه غافلیږه،اودنفس په خدمت مه لګیاکیږه، اوهغی دهیلو اوامیالوپه ترسره کولو کی زیارمه باسه.

اولیاء الله دنفس دغوښتنی پربنسټ له خلکو څه نه غواړی، اوکه یی څه واخیستل نوپردوی درحمت لپاره دی، نه داړتیاله مخی. ددوی نفسونه مطمئنه مرحلی ته رسیدلی دی، په ټوله سره دخدای په اختیارکی قرارلری. ته هم که دعقل خاوند وای، دنفس دخدمت څخه به دی لاس اخیستی وای اودخدای خدمت ته به دی ملاتړلی وای. دنفس دغوښتنوپروړاندی ترټولو غوره لاره سکوت اوچپتیا ده. غوښتنه یی په دیوارووله، وینایی دهغه لیونی په شان وګڼه چی ورته پاملرنه نه کیږی، غوښتنوته یی پام مکوه، ځکه هلاکت دده دغوښتنوپه منلوکی دی، اوصواب اوصلاح یی په ردولو کی ده.

نفس که دخدای په اطاعت کی و، نوروزی به یی په فراوانی سره له هری خواورسیږی، اوکه نافرمانه اوعاصی و، ټولی دروازی به یی پرمخ وتړل شی، ټول وسایل به تری واخیستل شی، رنځ اوهلاکت به پری وګمارل شی، اوددواړو دارینوپه خسران به واوړی. که فرمان وړونکی وی نوچی هرلوری ته وګوری خپل مفروض نصیب به ترلاسه کوی، پرته له رنځه اوتعبه به هغه څه چی ورباندی فرض دی ترسره کوی،اودغیرله خدایه به فارغ باله وی.

ای دمال خاوندانو، دحق دنعمت شکرپرځای کړی، اوکه نه دثروت دنابودی ته سترګی په لاره اوسی. دنعمت دکوتری وزری دشکرپه قیچی سره لنډی کړی اوکه نه له لاسه به یی ووالوزی.

ستاسوپه عقیده مړی څوک دی؟ مړهغه دی چی دحق پروړاندی مړوی، اګرکه ظاهرا حیات ولری. آیا هغه ژوندچی دشهوتونواودنیوی لذایذولپاره وقف شی، کوم ارزښت به ولری؟ آیا دغسی خلک په ریښتیاسره مړی ندی، اوپه ظاهره ژوندی.؟!

**لویه خدایه مونږپه خپل یاد سره ژوندی کړه، اوپه غیرولله اتکاء مومړه کړه!**

ای چی دسن دکهولت په وجه دی دشیخ نوم کټلی، اودلیددطبع اوتفکراواندیښنی له مخی تراوسه ماشوم یی، ترڅوبه دغه ماشومانه لوبی ترسره کوی، اوتل دی دنیا ترسترګوتاویږی؟ آیا نه پوهیږی چی ستا قصد معقول ندی؟ اوآیا نه پوهیږی چی دداسی چا بنده یی چی دواک پری دده په اختیارکی دی؟

که دی داختیارپری دنیا ته وسپاره ، پوه شه چی ددنیا بنده یی، اوکه دی اختیارآخرت ته وسپاره ، دهغی بنده یی، اوکه دځان حق ته وسپاره ، نوهغه وخت دخدای بنده یی. اوکه دواک اواختیار دنفس دهوا اوخلکوته وسپاره مسلما به دهغی چاکراوبنده یی. دست وګوره اودرست فکر وکړه چی خپله ولکه باید چاته وسپاری؟ ډیری له تاسوددنیا په طلب پسی دی، اولږکی له تاسو دآخرت غوښتونکی دی، اوپه ندرت سره لیدل کیږی څوک چی ددنیا اوآخرت دپروردګاراوخالق دلقاء په طلب کی وی.

دنوروسره په معاشرت کی حسن ادب رعایت کړی، اوله منازعی اوسوءادب څخه چی دهلاکت سبب دی، لیری اوسی. هوښیاراوسی، تاسوخپل اعمال دعادت له مخی ترسره کوی، پوه شی چی دااعمال دمچ دوزرپه اندازه دخدای پرنزد ارزښت نلری، مګرداسی چی ظاهرا اوباطنا اوپه ټولو احوالاتوکی په اخلاص عمل وکړی. هغه خزانه چی نه خلاصیږی، هماغه صدق اواخلاص دی، اوله خدایه خوف اورجاء په هرحال کی.

پرتاالازمه ده چی ایمان ولری، اوهرکله که دکوم یوه له صالحینوڅخه مخ شوی، پروړاندی یی متواضع اوفروتنه اوسه، دهغی سره منازعه مکوه. ای سست عقیدی، نه دنیا لری اونه آخرت، اودا دعزّوجلّ خدای پروړاندی ستا دسوءادب اوبی نزاکتی پایله ده، اوداولیاءالله اوابدالو پروړاندی ستا دبدبینی نتیجه ده چی خدای هغوی ته مقام اومنزلت

وربښلي دی. دوی هغه چاری سپارل شوی چی انبیاو اوصدیقینوته سپارل شوی، دخپلو نفسونوڅخه فانی شوی، ژوند یی دحق دانس پواسطه دی، زړونه یی ددنیا له ککړتیاڅخه پاک شوی، خدای پاک ورته خپل علم ،قدرت اوحکمت ښوودلی. اودوی ذاکره دی په : (لاحول ولاقوة الاباالله العلی العظیم). اوپه دی وینا کی کاملا صادق دی، خپل ټول حول اوقوت یی فناکړی اودخدای په حول اوقوت پوری یی منګولی لګولی. معاذ(دخدای رحمت دی وی پری) ویل:
الهی که په هغه څه چی زه یی غواړم،بری نه موم، نودخپلی غوښتنی پروړاندی می صبور وګرزوی.
(ای دخدای بنده) په قضاباندی رضا، ډیره خوږه ده ترهغی منازعی اوجداله چی ددنیادلاس ته راوړلولپاره کیږی. درضا خواږه دمومنینواوصدیقینوپه زړه کی ډیره خوږه ده ددنیا اودشهواتوترخوږو، ځکه دوی پاک ژوند پرته له ککړتیا خوښوی، نه ددنیا رنګارنګ حطام. دخلکو سره دعلم اوعمل په ژبه اواخلاص خبری وکړه، نه دبی عمله علم په ژبه، ځکه داسی کلام نه تاته اونه هم نوروته کومه ګټه نه رسوی. پیغمبراکرم(صلی الله علیه وسلم) فرمایلی:
(یَهْتِفُ الْعِلْمُ بِالْعَمَلِ فَاِنْ اَجابَهُ وَاِلاَّ اِرْتَحَلَ عَنْهُ)-« علم عالم ته دعمل ناره کوی، اوکه مثبت ځواب ترلاسه کړی پاتیږی، اوکه نه تری نه کډه کوی».
که خودخواه اوپرخپل علم مغروره عالم وی، پوه شه چی دهغی بی میوی ونی په شان یی. له خدایه وغواړه چی حال اومقام درته وبښی. اوکه بریالی شوی تری وغواړه چی دهغی دکتمان ځواک هم درته اعطاءکړی، چی دهغی څخه کوم شی په خوله رانه وړی، ځکه که هرکله دی وغوښتل له دی حال اومقام څخه کوم څه اظهارکړی، دخپل هلاک موجبات دی فراهم کړی دی. له عجب اوځان غوښتنی څخه داحوال دلاس نه وتو، اوداعمالو پروړاندی جدا ډډه وکړه، ځکه ستا په ګټه ندی. هیڅکله په خوله هغه خبره مه راوړه چی په ستازړه دهغی په صحت سره ګواهی ورنکړی. څرنګه څوک خپل کورته رابولی چی ورته دی خواړه ندی تهیه کړی؟ دغه ډول کارونه دزیرښا اوروښا جوړولوته اړدی، لومړی دی زړه ځمکه وکینده، ترڅو دحکمت چینه تری روانه شی، بیا په اخلاص اومجاهدت اوپه صالحو اعمالوسره تری مانی جوړه کړه اوبیا خلک ورته راوبوله.

**لویه خدایه زموږ شتون داخلاص په روح سره ژوندی وګرزوه!**

هغه خلوت چی په ظاهره دله خلکو لیری والی غوره کړی ولی په واقعیت کی دوی ستا په زړه کی ځای لری، درته څه ګټه رسوی؟ پدی صورت کی نه خلوت لری اونه هم کرامت. هرکله که دی خلوت غوره کړاوپه زړه کی دی پرخلکو اعتماد اوتکیه شتون ولری، دخدای پروړاندی پرته له حضوره وجود یی، اونفس اوشهوت اوشیطان ستا همناستی دی. ولی هرکله که دزړه له دی معارضو عواملوتش کړ اوله خدای سره وصل شوی، اګرکه په ظاهره له اهل اوعیال سره اوسی، پوه شه چی دخدای سره یی.هرکله که دحق انس دپه زړه کی ځای ونیو، دوجود مادی دیوارونه به دی ونړیږی، اودباطن په سترګوبه دخدای دعنایت اوفضل څخه ډیرشیان ووینی، اوبشپړ رضایت به ترلاسه کړی.
هرڅوک چی په حال دحالاتوکی و، اودشریعت ملازمت اومتابعت یی هیرنکړ، اودلږو اوډیرو هیلی، اوبود اونبود سودا یی له سره لیری کړه، درضا اوبندګی مقام یی ترلاسه کړی. وای پرتا! درضا دمقام مدعی مه اوسه، پداسی حال کی چی په یوه ګوله اویا یوه کلمه سره دی حالت بدلون مومی!! درواغ مه وایه، ځکه زماغوږونه ستاددواغوپوره وړی ندی، اوزه پری باورنلرم اوڅوک دهغی تصدیق هم نکوی، ځکه دخدای دمردانو زړونوته الهام کیږی، اوپه هغی سره ښه اوبد، رښتیا اودرواغ پیژنی، اوداپه دی دلیل دی چی دوی درسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) په افعالو اواقوالو سره متابعت کوی. که دداسی مقام رسیدو ته لیواله یی، تل دمرګ په یاد اوسه، ځکه دمرګ یاد دنفس سره په مبارزه کی درسره یاری کولای شی، اودهوااوطبع پردښمنانودی بریالی کوی، هرچاچی له مرګه پند وانه خیست دواعظ

لوری ته لاره نلری، پیغمبراکرم(صلی الله علیه وسلم) فرمایلی: (کَفی بِالْمَوْتِ واعِظاً)-«مرگ داسی واعظ دی چی دپنداخیستلولپاره کافی دی».
ستابرخه مقرره ده، که هغه وغواړی اوکه نه، تاته رسیږی. که پرته له حرص اوآزه دی ترلاسه کړه نومحترم یی، اوکه دپه حرص او شرسره پسی اوسی، هغه به دبی حرمتی په حال کی ترلاسه کړی.
منافق دخلکو پروړاندی له خدایه شرم کوی، ولی په یوازیتوب کی بی شرمه اوبی باکه وی. وای پرتا! که دواقعی ایمان درلودونکی وی اویقین دی درلودای چی خدای تا وینی، اوله بل هرچانه تاته نیږدی دی، له ده څخه به دی شرم کاوه، زه هغه څه چی حق دی وایم، اوله تا اونورو څخه هیڅ ډارنلرم، اوپرتاسو می هیڅ هیله نده ترلی،بلکه تاسو اودځمکی پرمخ ټول خلک می ترسترگوکمزوری اوداسی حقیردی له میاشه اویا میږی، ځکه پوه یم چی گټه اوتاوان دخدای په لاسونو کی ده نه ددوی. ارباب اوغلام می په نظر یودی. که دچا انکارکوی نو باید دشرعی په حکم وی نه دشخصی حب اویا بغض له مخی. دهرڅه په هکله چی شریعت ساکت دی ، ته هم ساکته اوسه، اوپه هرڅه چی ناطق دی ته هم ناطقه اوسه.
(ای دخدای بنده) دنفس اوهواله مخی دبل انکارمکوه، بلکه باید په ایمان سره ایراد ونیسی، ځکه ایمان اویقین دبدیو لیری کوونکی دی. عزّوجلّ خدای یاراویاوردی، اوتاسره دامربالمعروف اونهی له منکرڅخه مرسته کوی، خپله یی فرمایلی: (اِنْ یَنْصُرْ کُمُ اللهُ فَلا غالِبَ لَکُمْ)-«که خدای له تاسره مرسته وکړی، نوهیڅوک پرتاسوبری نشی موندلای. سوره آله عمران آیه ۱۶» او(اِنْ تَنْصُرُوا اللهَ یَنْصُرْکُمْ وَیُثَبِّتْ اَقْدامَکُمْ)-«که دخدای یاری وکړی هغه به هم ستاسو یاری وکړی، پایداره به موکړی. سوره محمد آیه ۷».
هرکله که دخدای لپاره دچا انکاروکړی، خدای به هم له تاسره یاری وکړی، اوپرده به دی بریالی کړی، اوکه دخپل نفس دهوالپاره دچا انکاروکړی خدای به دمقهوراوخواروگرزوی.ایمان منکردی، پس هرکارچی دایمان له مخی نه وی، غوره ندی. شرعی انکارهغه دی چی خپله گټه اوتاوان پکی ونگوری، اوپه خالصانه ډول دخدای لپاره وی نه دخلکواونه هم دنفس لپاره. هوس له ځانه وشړه، په خپلواعمالو کی اخلاص ولره. پوه شه چی مرگ په کمین کی دی، ناچاره یی چی دمرگ له پله څخه تیرشی.دغه بی ځایه حرص چی ستا درسوایی سبب دی له ځانه لیری کړه. هغه څه چی ستا نصیب اوبهره ده درته رسیږی، اوهغه څه چی ستا ندی ، نه درکول کیږی. پس خدای ته راوگرزه اوپخپل مقسوم مال باندی حریص مه اوسه، اودغیرو له مال څخه ډډه وکړه، عزّوجلّ خدای رسول اکرم( صلی الله علیه وسلم ) ته په خطاب کی فرمایی:( وَلاتَمُدَنَّ عَیْنَیکَ اِلی ما مَتَّعْنا بِهِ اَزْواجاً مِنْهُمْ زَهْرَةَ الْحَیاةِ الدُّنْیا لِنَفْتِنَهُمْ فِیهِ)-«سترگی هغه مال ددنیا ته چی دآزمایښت لپاره می درکړی، مه نیسه،چی هغه یوازی ظاهری ښکلالری. سوره طه آیه ۱۳».
دهغه چالپاره چی خدای یی په ریښتینی سره پیژندلی، ترټولو سخته داده چی دخلکو سره کښینی اوددوی سره په گفتگوکی ښکیل شی،دهمدی اصل پربنسټ دی چی په زړگونو عارفان اوواعظان دخلکو ترمنځ یوازی په توحید امرکوی، ځکه دوی دواحد فرد حکم لری اوداسی فرد دخلکو ترمنځ دانبیاو دقدرت اوتوان نیازمنددی، ددی لپاره چی هرمصلح دبیلابیلو خلکو سره سراوکارلری، دهوښیاراوسفیه(نادان)، منافق اومومن، نوځکه باید دانبیاو په صبرسره ددی کړوانوسره مبارزه وشی،اوقطعا به بریالی کیږی هم،ځکه ماموردخدای په امردی،اودحق له لوری ورسره مرسته کیږی، په ارشاد اوراهنماییو کی دحق دکلام مراعات کوی، اودهوی اوهوس له مخی خبره نکوی. پس ته هم که غواړی خدای وپیژنی، پرخلکو اعتماد له زړه وباسه، اوداډه شه چی گټه اوتاوان دخدای دقدرت په لاسونو کی دی، اوخلکو سره دهغی اختیارنشته، ترڅوپه دی وسیله سره دخدای پیژندگلوی ته ورسیږی.

وای پرتا! دنیا په لاس کی لرل اوپه صالح نیت اودشریعت دحکم سره سم له هغی ګټه اخیستل مجازدی، ولی دهغی حب په زړه کی ساتل په هیڅ ډول جایزندی. ددنیا په درګاه دریدل مجازدی، اوهغی ته ننوتل ممنوع. کرامت اوبزرګواری ته به ونه رسیږی، ترڅو دهغی بنده چی له ځانه فانی،محواوناابود شوی نه وی،داسی بنده چی باطن یی دآفاتوپروخت نه بدلیږی، هرکله که دخدای دامرپرورړاندی ودریږی، هغه ترسره کوی، اودهغی دمنهیاتوپروړاندی خویشتن داره دی، څه نه غواړی اوهیله یی نه کوی، له حرص اوآزڅخه لیری دی، اودزمانی له بدلونونو سره صبوره، پس ته چیرته یی؟ ای په علم اوعمل سره خائنه، ای دخدای اورسول دښمنه، ای دخدای دبنده ګانو غله، دنفاق تیاره دی ښکاره اوظاهره شوی،دا نفاق ترکومه! ای زاهدانو! ای عالمانو! ترڅودنفاق دسترخوان دپادشاهانو اوسلاطینو پروړاندی غوړوی، اوددنیا دمال لپاره دهغوی ستاینه هم کوی؟! تاسو اوددی زمانی ډیری سلاطین دخدای اودخدای دبنده ګانو پروړاندی خاېن یاستی!.

**لویه خدایه، دمنافقینو شوکت اولویوالی مات اوناابودکړه، دوی توبی ته وګماره، یایی بیخ اوبنسټ وباسه اوځمکه یی دوجود له لوث څخه پاکه کړه!**

شیخ(رضی تعالی عنه) دخبروپه ادامه کی داسی وفرمایل: ای پادشاهانو، ای ستمګرانو، ای منافقینو، ای په دنیا زړه ترلو،پوه شی چی دنیا موقتی ده،اوآخرت ابدی دی،دتقوی اوزهد په واسطه له خدایه له غیروڅخه بیل شی، زړونه موله غیرخدایه څخه پاک کړی. ځیراوسی له دی څخه چی دنفس ښکاروګرزی، په بندیی شی، اویامو پرته له خدایه په بل څه زړه وتړی.هرکله که موله دنیاڅخه خپله مقسومه برخه ترلاسه کړه، دشرعی په لاسونو له هغی ګټه پورته کړی،نه دحرص اونه دحب اومینی له مخی.

زهدکه ادامه وموِمی اودوام پیداکړی، زړه خپه کوی اوجسم ډنګرکوی، چی دااندوه اوډنګرتوب دفرج اودخدای عزّوجلّ درحمت اومعنوی خوښی سبب ګرزی، اوهم اوغم زایله کوی. دریښتینی مومن زړه له مال ،خلق، زن اوفرزند څخه قطع دی اویوازی په خدای مشغول دی، اودرسول اوالهی استازی په هیله، چی په زړه یی نورشیندنه وکړی. واقعی مومن په جسم سره دخلکو ترمنځ ولی په زړه دخدای سره دی.

هرکله که توحید په زړه کی ځای ونیو، عمل به په ظاهره اوباطن کی اصلاح شی، درون اوبیرون به سره مساوی شی، دنیا به ټوله پراخی سره ورته تنګه شی، اوزړه به دحق دعشق څخه ډک شی،په دی مقام کی دی چی:( **هُنَالِكَ الْوِلايَةُ لِلَّهِ الْحَقِّ**) بنده به ریښتینی مینه وال، عالم، معلم،حکیم، محکم، قریب، مقرب، ادب، مودب، مغنی اوله خلکو بی نیازه وګرزی. اوته ای نادانه دخپلی نادانی په رفع کولو کی زیاروباسه. ته له زده کړی غافل یی اودنورو په تعلیم پسی سرګردانه! ځانته بی ځایه زحمت مه ورکوه،څوک له تاڅخه څه نشی زده کولای، ته چی دخپل نفس معلم نه یی، څرنګه کولای شی چی دنورومعلم وګرزی.؟

(ای قومه) دکفارو سره یوځای کیدل دخدای عزّوجلّ قدرنه کموی. دخدای په حکم عمل وکړی، ترڅوموعلم وعمل ته مقرون شی، اوهرکله که علم اوعمل مقرون شول، قدرت به وګوری، اوهرکله که حجاب ستا اوخدای ترمنځ لیری شو،دخزاینوپه اسرارو اودآفرینش په رموزبه پوه شی، دخپل فضل له طعامه به بهره مندشی، اودانس له شرابوبه یی وڅښی، اودقرب په دسترخوان به ځای ونیسی، دغه ټول مواهب په کتاب اوسنتوپه عمل سره ترلاسه کیږی، پس په هغوی عمل وکړه، اودهغوی له فرامینو سرغړونه مکوه، ترڅو دعلم دخاوند یعنی عزّوجلّ خدای ته مقرب شی، اولدنی علم له هغی زده کړی،اودحکم له کتابه دعلم کتاب ته پورته شی، داسی چی زړه اومعنویت دی دنبی کریم(صلی الله علیه وسلم) ترڅنګ قرارونیسی،اوهغه به دی لاس ونیسی اودقرب مقام ته به دی ورسوی.

**«ربنا آتنا فی الدنیا حسنه وفی الاخرم حسنه وقنا عذاب النار»آمین.**